

RICH'S®

# ستاسې ژوند.
# ستاسې اړتیاووې.
# ستاسې امتیازونه.

myRewards | **د ژوندانه لپاره** یوه نسخه.

امتیازونه • سوکالي • درک • جبران • تقاعد

OCTOBER 26 – NOVEMBER 6

YOUR Benefits, YOUR WAY

COMPARE – DECIDE – ENROLL

## همدا یې وخت دی چې
## د 2027 کال لپاره خپل امتیازونه وټاکئ

Rich's داسې امتیازونه وړاندې کوي چې ستاسې له اړتیاوو سره سمون لري—له هغو انتخابونو سره چې تاسې یې د خپلې کورنۍ د مهمو موضوعاتو پر بنسټ ټاکلی شئ.

## د 2027 کال لپاره څه شی نوي دي

**دا هغه نوې بدلونونه او معلومات دي چې تاسې یې باید وپېژنئ، تر څو خپل امتیازونه وڅېړئ او خپلې پرېکړې وکړئ.**

**ستاسې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره امتیازونه**
موږ خپل طبي پلانونه داسې اصلاح کوو چې د بازار له معیارونو سره لا ډېر سمون ولري، او په همدې حال کې د ونډې د زیاتېدو کچه محدوده ساتو. د غاښونو او سترګو پلانونه — او د هغو لګښتونه — به د پخوا په څېر وي.

**د ژوند د پړاوونو لپاره زموږ نوی د تخصصي روغتیایي خدماتو وړاندې کوونکی در پېژنو** موږ د Carrot په مټ نوي او پیاوړي امتیازونه پیلوو، څو د ژوند له هر پړاو ملاتړ وکړي، چې په هغو کې امېندواره کېدل، د ماشوم منل، د کورنۍ پاملرنه، والدین توب، د ماشوم ساتنه، د مېرمنو د میاشتني عادت بندیدل، د نارینه‌وو روغتیا او نور په کې شامل دي.

**د GLP 1 پوښښ لپاره په دقت سره نوي راغلي بدلونونه**
موږ دغه بدلونونه د دې لپاره راوستي دي تر څو دا پوښښ دوامداره پاتې شي، له هغې ډلې د مخکینۍ اجازې نوي شرایط او د لګښت شریکولو تازه شوي مقررات په کې شامل دي. اغېزمن شوي غړي به په دې اړه جزئیات له Evernorth (چې پخوا د ESI په نوم یادیده) د پست له لارې تر لاسه کړي.

**د ژوندانه د بیمې لا زیات انتخابونه او سپماوې**
د ژوندانه بشپړه بیمه به اوس تر 2 میلیون امریکایي ډالرو پورې د لاسرسي وړ وي چې د پوښښ لپاره به ټیټ لګښت لرونکی وي او د کورنۍ د نورو غړو د ژوندانه د پوښښ لپاره به اضافي انتخابونه ولري.

**په هغه څه کې پانګونه چې خورا اهمیت لري**
موږ په پرله پسې توګه د دې ارزونه کوو چې په کوم ځای کې زموږ امتیازونه پراخه اغېزه لرلای شي. د همدې بدلونونو د یوې برخې په توګه، موږ به د 2026 کال په پای کې له 2nd.MD او Care@Work سره خپله همکاري پای ته ورسوو او د دغو سرچینو بودیجه به د روان کال د پلان په بدلونونو کې ولګوو.

**د Collective Health د تجربې پیاوړتیا**
Collective Health لا زیات روزنیز ملاتړ او سرچینې اضافه کوي تر څود پوښتنو په چټک هواري او د Rich's د هر غړي د تجربې د لا زیات شخصي کېدو کې مرسته وکړي.

# کلیدي سرچینې

## خپل انتخابونه وسپړئ

زموږ د تازه انتخابونه وېب پاڼه وګورئ، **MyRichsBenefits.com**، وړاندې تر دې چې ازاده نوملیکنه (Open Enrollment) پیل شي پلانونه پرتله کړئ، د سرچینو وړاندې کوونکي وسپړئ او د اګاهانه تصمیم نیوونې لپاره خپل درک تر لاسه کړئ.

سکن کړئ تر څو دې وېبپاڼې ته ورشئ
MyRichsBenefits.com

## تر نوملیکنې مخکې پوه شئ

د اکتوبر له 9 وروسته، له Collective Health څخه د Evernorth and Express Scripts د مخکتنې سایټونو له لارې کتنه وکړئ تر څو تر پوښښ لاندې نسخې او د هغوی لګښتونه وسپړئ، په شبکه کې دننه وړاندې کوونکي ومومئ، د پلان جزئیات وګورئ او داسې نور. د پیلولو لپاره لاندې د QR کوډونه سکن کړئ.

د Collective Health
د مخکتنې سایټ د لیدلو
لپاره یې سکن کړئ.

د Evernorth له خوا
د Express Scripts مخکتنې
سایټ د لیدلو لپاره یې سکن کړئ.

## مرستې ته اړتیا لرئ؟

د Collective Health متخصصینو یو ټیم لري او چمتو دی چې ستاسې طبي او فارمسي اړوند پوښتنو ته ځواب ووایي.
ستاسې کولای شئ له Collective Health سره د اړیکې نیولو لپاره دغې شمېرې ته زنګ ووهئ: **1-855-242-5559.**

هغه غړي چې د ډله ییزې معاملاتو هوکړه لیک (collective bargaining agreement, CBA) تر پوښښ لاندې دي هغوی باید د خپل ځانګړي پلان د جزئیاتو لپاره خپل هوکړه لیک ته ارجاع شي.

## چمتو شئ

**ازاده نوملیکنه (Open Enrollment) د دوشنبې په ورځ د اکتوبر په 26 پیلیږي او د جمعې ورځ د نومبر په 6 پای ته رسیږي.**

## انلاین توګه نوملیکنه وکړئ

د اکتوبر له 26 وروسته، تاسې کولای شئ د کمپیوټر یا موبایل دستګاه په مټ د Alight پورټال له لارې نوملیکنه وکړئ. د چټک لاسرسي لپاره د QR دغه کوډونه سکن کړئ.

د Alight پورټال ته
د ورتلو لپاره یې سکن کړئ

د Alight پورټال
اپلیکیشن دلته ډاونلوډ کړئ
Apple App Store

د Alight پورټال
اپلیکیشن په Google Play
کې ډاونلوډ کړئ

## د تلیفون له لارې نوملیکنه وکړئ

د ازادې نوملیکنې (Open Enrollment) په درشل کې، تاسې کولای شئ د Alight د پیرودونکو د خدماتو له استازي (Customer Care Representative) سره خبرې وکړئ. هغوی کولای شي له تاسې سره د ژباړې په برخه کې مرسته وکړي، د تلیفون له لارې له تاسې سره د امتیازونو لپاره په نوملیکنه کې مرسته وکړي او ستاسې هر ډول پوښتنو ته ځواب ووایي.

**په داسې یوه وخت کې اپاینټمنټ وټاکئ چې تاسې ورته وزګاره یاست**

زنګ ووهئ: **1-800-455-2587**، 1 انتخاب،
له دوشنبې تر جمعې د سهار له 8 د ماښام تر 9 بجو پورې د ET له مخې.

**مهم ټکی:**

هیڅ ډول اتومات تمدید نشته — که چېرې تاسې سږ کال نوملیکنه و نه کړئ، نو په 2027 کال کې به د Rich's پوښښ و نه لرئ.

